# "د مور غېږه"

رحمت شاه سائل

مونږ خپل وطن ته بوځئ
مونږ سوات ته ورسوئ
زمونږه پورې دروازې به زمونږ لارې څارې
زمونږه خړ خړ دېوالونه به سحر مازیګر
زمونږ خبرو ته غوږ غوږ وي انتظار به کوي
یوې ماشومې ماسختن د خپلې مور په زنګون
پرېوته، سر کېښودو
سپور سپور وېښتهٔ ئې په مخ
دانه وانه پرېواتهٔ
د مور په سترګو کښې ئې خپلې سترګې
داسې ور واچولې
لکه په دوو پېمانو کښې
دوه د اوښکو قطرې
مورې وطن ته چې ځو کله به ځو؟
مورې زمونږ د چینډروګانو نخښې
چې به اوس وي کهٔ ورانې شوې به وي
مورې زمونږه د دېوال سوړو کښې
چې مونږه خپل میرګاټې پټ اېښې وو
هغه به هغسې پراتهٔ وي کهٔ نهٔ
کهٔ مورې چا به په ګولو ویشتې وي؟
هغه د هر دېوال په هر چوندې کښې
چې به زمونږه د سرونو وېښتهٔ
مونږه په نوم د پرښتو کېښودهٔ
هغه به وي کنه د امن پرښتو به چرته
بل ځائے سمبال اېښې وي
مورې زمونږه د راتلو په وخت کښې
چې مونږ لالا په وینو سور پرېښے ؤ
هغه به تلے وي ډاکټر له کهٔ نهٔ
مور ئې نور تاب د اورېدو نهٔ لرهٔ
په خُلهٔ ئې زر ورته خپل لاس کېښودو
بچے زما د نړېدلي زړهٔ نه
نورې د غم کمرې مهٔ نړوه
بچے په دې زړهٔ کښې خو
اوس ته یواځې نهٔ ئې
اوس پکښې ټول په سرو لمبو کښې سوے
د سوات ښائست پروت دے
اوس پکښې ستا د تندي
د خورو زلفو په شان
د هر چنار د پاڼې پاڼې تصور پروت دے
په دې زړګي کښې خو اوس
د سوات د ټولو پېغلو
د سرو لاسونو د ارمان سوے بدن پروت دے
په دې زړګي کښې خو اوس
د سوات دټولو "ککو" ټولو ګوډو
وړې وړې، سرې سرې چاچئ پرتې دي
په دې زړګي کښې خو اوس
ستا د لالا په شانې
په وینو سرهٔ ځلمي په خوب اودهٔ دي
په دې زړګي کښې خو اوس
ستا د چینډرو په شانې
د وینو کرښې څوک هر وخت وباسي
په دې زړګي کښې اوس
ستا د میرګاټو په شان
د همه کلي لونه
میرګاټې ړدي، ځي او په شا نهٔ ګوري
په دې زړګي کښې خو اوس
د انتظاره سېوا

بله لمبه نشته دے
خو بچے یه زما د زړۀ غندلې!
ستا دا بلا بې قراري
زما د زړۀ دننه
ستا دا بلا سوالونه
زما د زړۀ دننه
ستا دا بې وسه سترګې
زما دزړۀ دننه
دا خوندي کړي ارمانونه د سوات
دغه غنچې غنچې یادونه د سوات
دغه سمبال امانتونه د سوات
دغه خوارۀ خوارۀ خوبونه د سوات
زما په زړۀ زلزلې رانۀ ولي
چاته ښکاره نۀ شي ډاکه ئې نۀ کړي
بیا چرته دغسې تالان جوړ نۀ شي
بیا چرته تا او سوات جدا نۀ کړي څوک
بیا چرته ستا د پښتو تناکې تلي
بې اوره بې ټکوره پاتې نۀ شي
بیا چرته ستا وړې ماشومې زلفې
غرمو ته پاتې نۀ شي سپورې نۀ شي
بیا چرته ستا سترګې حېرانې سترګې
خپلو حالاتو ته حېرانې نۀ شي
بیا چرته ستا اوښکې په سر د ښو
زما زړګي ته راروانې نۀ شي
بیا چرته ستا د خوب او خیاله جوړې
زما د خیال جونګړې ورانې نۀ شي
چپ شه بچے تۀ په معصومه کوکې
داسې پاځۀ سوالونه نور مۀ کوه
داسې ازغي د ښو مۀ وروه
داسې نور شور دغسې زور مۀ کوه
تا وې وطن ته چې ځو کله به ځو؟
تا وې چې کله ځو نو څنګه به ځو؟
داسې به ځو لکه چې تۀ راغللې
او په زنګون دې زما سر کېښودو
داسې به سوات لکه د مور د غېږې
خپلو بچو ته کړې خوارۀ ځانګونه
او د بچو سوالونه
به داسې ټول عمر له
هم بې جوابه نۀ وي
سوات وطن نۀ دے
سوات د مور غېږه ده
او د مور غېږه اباسین وي حادثې غرقوي

## اندېښ شمس القمر

ځئ چې په زړونو کښې ارمان د بهار وینې وساتو
ځئ چې په سترګو کښې د یار انتظار وینې وساتو

دلته لمحه لمحه دانه، دلته ګړۍ ګړۍ دام
باید چې مونږ د خپل احساس څوکیدار وینې وساتو

دا دے په مونږه د تاریخ د سفر قرض پورې
چې دې راتلونکے مسافر په دې لار وینې وساتو

دغه پښتو مو ده د ګل د قاتل باده سره
چې خپل ارمان په اوچ ډنډر د ګلزار وینې وساتو

هلته به شپه وویني څنګه د ستم خوبونه
دلته کۀ مونږه ورته داغ د ازار وینې وساتو

هیڅ پته نۀ لګي د مینې د اقرار د موسم
مونږ له پکار دي چې خمار د انکار وینې وساتو

اوس خو بس دا دے د غزل د ځنې سترګې سامان
رنګ د احساس به د حالاتو په دار وینې وساتو

## سېلاب د وينو

### تواب ترابي

سکون د ژوند چې ئې لاهو کړلو د مخې سره
زمونږ په سيمه دا سېلاب د وينو چا راوستو

دنګ محلونه هم واړۀ کورونه ئې پرې نۀ ښودل
ځائے د ادراک چې ؤ هغه سکولونه ئې پرې نۀ ښودل
ډک د سرو زرو چې ؤ لوړ لوړ غرونه ئې پرې نۀ ښودل
رنګ رنګ مېوې پکښې کېدې باغونه ئې پرې نۀ ښودل
ښاړ چمنونه شو ښائسته ګلونه ئې پرې نۀ ښودل

د نۀ کېدو چې وي هغه کارونه څۀ له کوي
زمونږ په سيمه دا سېلاب د وينو چا راوستو

ډېر دې حالاتو لېوني کړل در په در ګرځي اوس
لوئے او واړۀ پکښې د کور کلي بهر ګرځي اوس
ترس په چا کښې نشته خبر کۀ ځوک نهر ګرځي اوس
روغ جوړ لا څۀ چې بيماران کډه په سر ګرځي اوس
خلقو نه وار و پار خطا وي په خطر ګرځي اوس

دا سوچ ئې نۀ وي چې ښېرې د چا د زړۀ به وځي
زمونږ په سيمه دا سېلاب د وينو چا راوستو

دا به څۀ کېږي دلته نۀ دي چې ځانونه محفوظ
ګران عبادت شو هر ځائے نۀ دي جماتونه محفوظ
دا تباهي ده د هېچا نۀ دي کارونه محفوظ
د بې ګناه کسانو هم نۀ دي سرونه محفوظ
څنګ داسې حال کښې د وطن شي بنيادونه محفوظ

حېران يم څوک ورته وائي دا دي د ثواب کارونه
زمونږ په سيمه دا سېلاب د وينو چا راوستو

وخت هاغه نۀ دے پښتانۀ ورونړه دي شر نۀ کوي
هغوي شړل غواړي چې څوک د مينې کر نۀ کوي
چې وي بدنيته نو خبرې ئې اثر نۀ کوي
دومره ظلمونه په بشر بانديې بشر نۀ کوي
دا مونږ چې څۀ کړو خوشحالۍ به پرې کافر نۀ کوي؟

لږ پښتنو له هم په دې خبره سوچ پکار دے
زمونږ په سيمه دا سېلاب د وينو چا راوستو

دا چې ظلمونه ئې د ظلم انتها ته رسي
دا سوچ ئې نۀ وي چې فائده به د دې چاته رسي
دروغو کلي وي وران کړي چې رښتيا ته رسي
داسې کارونو باندې تول د غم صحرا ته رسي
مونږ په غارونو کښې اوسېږو نور خلا ته رسي

توابه پاتې يو د چا سيالي کولے نۀ شو
زمونږ په سيمه دا سېلاب د وينو چا راوستو

### نواز يوسفزے

ما اورېدلي چې د ګلو کاروان ېبرته راځي
له خپلو جالو الوتلي مارغان بېرته راځي

د چنارونو، نښترونو، چينو هر يو مئين
په ژړا تلے لکه ګلِ خندان بېرته راځي

بيا به کوڅه په کوڅه شور د خنداګانو واورې
شونډې پرانستې ګلالي ماشومان بېرته راځي

په غرونو غاړو لګېدلے اور به مړ شي اخر
زمونږ له سيمې تښتېدلے باران بېرته راځي

بيا به ابادې شي حجرې او جماتونه زمونږ
د هنرمندو معمارانو کاروان بېرته راځي

نوازه! تۀ هم امېلې ته هر کلي له ورشه
هغه چې تا به يادولو جانان بېرته راځي